# یوناني تلمیحات او د مجذوب شاعري

**Reflection of Greek Mythology in the poetry of Abdul Rahim Majzoob**:

جاوید اقبال اقبال

**Abstract**: *Abdul Rahim Majzoob is one of the prominent poets of the modern period of Pashto poetry. Through his versatile poetry he transcended the traditional frameworks and has added new themes in the poetry of his age. In this paper the scholar has identified an interesting aspect that is, the description of Greek Mythology in the poetry of Majzoob. The particular characters as described by Hommer in Oddysy are very new in the domain of Pashto literature. Majzoob has strived to connect symbols and a metaphor of Greek mythology in modern poetics of Pashto Literature. The paper unpacks and argues on the specific myths that has a renowned space in the world literature for centuries and also identifies new dimensions in the poetry of Abdul Rahim Majzoob*.

عبدالرحیم مجذوب د شلمې صدۍ د نوي دور د شاعرانو د قافلې هغه سالار دی چې پښتو شاعرۍ ته ئې نوي موضوعات او رجحانات داخل کړي دي او دغسې ئې د پښتو شعري ادب ته نوې لارې خلاصې کړې دي. د پښتو شاعرۍ د جدت او ندرت دغه سرلاري چې په خپله شاعرۍ کښې کوم نوي موضوعات او رجحانات داخل کړي دي په هغې کښې د ټولو نه جوت اړخ د هغۀ د رومانویت دی.عبدالرحیم مجذوب خپله شاعرۍ کښې د روماني جذباتو او اثراتو اظهار په کوم روایتي رنګ کښې نۀ دی کړی بلکې د خپلې ژورې مشاهدې او د مغربي ادب د غرقې مطالعې په بنیاد ئې د پښتو شاعرۍ کښې د رومانویت تازه انګازو ته لاره پرانستې ده او دغسې ئې د خپلې مخصوصې لهجې او ځانګړي انداز په وسیله د یو بېل او مخصوص طرز او اسلوب شاعري کړې ده چې په پښتو کښې یواځې هم د مجذوب برخه ده او د هغۀ اسلوب او انداز هم د هغۀ په نامه پېژندی شي.

د مجذوب په دغه نوي رنګ او اسلوب کښې د هغهٔ د یوناني تلمیحاتو د استعمال ډېر لوئ لاس دی چې په مجموعي توګه ئې د هغهٔ د شاعرۍ رومانوي رنګ ته نوره هم ځلا ورکړې ده. د هغهٔ په یوناني تلمیحاتو پوهېدو دپاره لازمه ده چې د ځنو اصطلاحاتو وضاحت د مخکښې نه وشي دا لاندیني اصطلاحات په واضحه توګه سپړدل ضروري دي.

(1) تلمیح څهٔ ته وائي.

(2) یوناني اساطیر ( دېو مالائي رنګ) څهٔ شی دی؟.

(3) مېتهالوجي (Mythology) او یوناني مېتهـ (Myth) څهٔ شی دی؟.

د دغو نکتو د وضاحت نه پس د مجذوب د یوناني تلمیحاتو په استعمال او مفهوم پوهېدل اسانېدی شي. ځکه وړومبی د دغو اصطلاحاتو لنډ وضاحت کوو.

(1) **تلمیح څهٔ ته وائي**:

د تلمیح د اصطلاح مجموعي وضاحت زیات ضرورت هم نشته ځکه چې په شعر او ادب کښې د تلمیح ذکر بار بار راځي خو بیا هم دومره به ووایو چې په خبرو، بیان یا شعر کښې کومې تاریخي، مذهبي، سماجي یا ثقافتي واقعې یا قیصې ته اشاره کولو ته تلمیح وائي. تلمیح د عربۍ ژبې توری دی چې مفهوم ئې ډېر وسعت لري. په حسن اللغات کښې د تلمیح مفهوم داسې بیان شوی دی.

"کم نگاہی سے دیکھنا، سر سری نگاہ کرنا، ہلکی نگاہ کرنا، علم معانی کی اصطلاح میں کسی قصے کی طرف اشارہ کرنا، یا نجوم، ریاضی، موسیقی، طبعی وغیرہ علوم کی اصطلاح کو یا قران شریف کی کوئی آیت یا کوئی حدیث اپنے کلام میں لانا"(1)

تلمیح ته په انګرېزۍ کښې اېلوژن (Allusion) وائي. د اېلوژن معنٰی په قومي انګرېزي اردو لغت کښې داسې ښودلې شوې ده:

"اشارے کنائے کا عمل، واضح طور پر نہ کہی گئی چیز کی طرف اشارہ بالواسطہ یا بر سبیل تذکرہ، تجویز، در پردہ حوالہ، اشارہ، کنایہ، ایما، رمز، تلمیح"(2)

(2) **يوناني اساطير**:

د تلميح د دغه مختصر وضاحت نه پس دا هم څرګندول ضروري دي چې يوناني اساطير يا دېو مالا څۀ ته وائي؟ لکه چې زمونږ په ادبي تاريخ کښې په تکرار سره راغلي دي چې يونان د علم و ادب او مختلفو علومو مرکز پاتې شوی دی دغسې په يونان کښې د مختلفو جنګونو واقعې يا قصې او د يونان د مافوق الفطرت عناصرو داستانونه لکه د عبادت دېوتاګان او د طاقت د نورو سرچينو سره تړلې واقعې او قيصې د يوناني اساطيرو برخه ده چې وروسته ئې شاعرانو د عبرت او پېغام رسانۍ دپاره ذکر کړې دی يا ئې ورته په خپله شاعرۍ کښې اشارې کړي دي دغه اشارو ته مونږ يوناني اساطيري ادب يا يوناني دېومالا ته اشارې وايو.

(3) **مېتهالوجي او يوناني مېتهـ** (Mythology and Greek Myth)

پورته ذکر شوو تلميحاتي اشارو او اساطيري رواياتو سره چې د يوناني ثقافت، تهذيب، تاريخ، علم، ادب او نورو فنونو او علمونو ګډون وشي نو په مجموعي توګه ورته يوناني مېتهالوجي وئيلی شي. خو دې سره سره دا وضاحت هم ضروري دی چې په مېتهـ او مېتهالوجي د مافوق الفطرت عناصرو او قيصه ايزو رواياتو اثرات ډېر جوت وي. د مېتهالوجي تعريف په قومي انګرېزي اردو لغت کښې په دې ټکو شوی دی.

"اساطيريات، علم الاصنام، ديومالا، ضميات، اسطوريات، اساطير کا مطالعه، اساطير کا مجموعه جو کسی خاص شخص سے متعلق ہو یا دیوتاؤں اور انسانوں کے افسانوی کارناموں کو بیان کریں"(3)

"د مېتهـ (Myth) او مېتهالوجي (Mythology) تعريف په انسائيکلو پيډيا بريټانيکا کښې هم نزدې نزدې په همدغو ټکو کښې راغلی دی چې په دې ډول دی:

"Myth is a collective term denoting a symbolic narrative in religion, as distinguished from symbolic behaviour (cult, ritual) and symbolic places or objects (temples, icons). Myth are specific accounts of gods or superhuman beings involved in extraordinary events or circumstances in a time that is unspecified but which is understood as existing apart from ordinary human experience"(4)

ترجمه: مېتهـ (Myth) يو مجموعي اصطلاح ده چې په مذهب کښې علامتي بيانيه رنګ لري او د علامتي اظهار او علامتي ځايونو (اخلاقيات او مکان) سره فرق لري. مېتهـ د ديوتاګانو او انسانانو د غير معمولي واقعاتو او حالاتو اظهار په غېر معين او غېر مخصوص وخت او انداز کښې کيږي خو بيا هم ترې دا پته لګي چې د انساني تجرباتو نه بالاتر صحي خو دا واقعات وجود ضرور لري.

(4) يوناني مېتهالوجي (Greek Mythology)

د مېتهـ (Myth) او مېتهالوجي (Mythology) د مجموعي ذکر نه پس لنډ شان ذکر د يوناني مېتهالوجي هم ضروري دی ځکه چې د مجذوب په شاعرۍ کښې د يوناني تلميحاتو کومه خبره کيږي هغه په بنيادي توګه د يوناني مېتهالوجي برخه ده. يوناني مېتهالوجي هسې خو د يونان د مجموعي ثقافتي، تهذيبي، سياسي او مذهبي حالاتو او واقعاتو د بيانيه انداز نوم دی خو په خصوصيت سره چې په يونان کښې د ديوتاګانو او انسانانو د تعلق او طاقت د کرشمو کومې قيصې او روايات مشهور دي دې نه علاوه چې په يوناني رواياتو کښې د ديوتاګانو د جنګونو کومه تذکره موجوده ده هغه هم د يوناني اساطيرو (Greek Mythology) اهمه برخه ده دغسې په يوناني ادب کښې د ځنو مشهورو جنګونو خصوصي تذکره کولی شي چې په کښې د ټروجن او ټرائ جنګونه زيات مشهور دي. د دغو جنګونو د اتلانو ذکر او نورو واقعاتو ترجماني يوناني شاعرانو په خپله شاعرۍ او قيصه ليکونکو په خپلو قيصو کښې کړې ده چې د يوناني مېتهالوجي برخه جوړه شوې ده. غرض دا چې يوناني مېتهالوجي د يونان د مجموعي تهذيبي پس منظر عکس وړاندې کوي چې شاعران او ليکوال ئې په خپلو شعرونو او ليکونو کښې يادونه کوي. دا يادونه د دنيا ګڼ شمېر شاعرانو کړې ده چې اخر ئې اثرات پښتو شاعرۍ ته هم را رسېدلي دي.

**مجذوب او يوناني تلميحات**

لکه چې وئيلی شوي دي چې عبدالرحيم مجذوب د پښتو د موجوده عصر يو داسې شاعر دی چې د انګرېزي ادب ژوره مطالعه ئې کړې ده او د خپلې دغه ژورې مطالعې عکس ئې په شاعرۍ کښې هم په نظر راځي. د هغهٔ په شاعرۍ کښې چې د انګرېزي ادب د مطالعې په نتيجه کښې کوم واضح عناصر څرګند ليدی شي په هغې کښې يو د هغهٔ رومانويت دی او بل ئې د يوناني تلميحاتو استعمال دی خو دلته يوه خبره واضح کول ضروري دي چې د يوناني تلميحاتو دغه استعمال په خپله د رومانويت يوه اهمه تقاضه او د رومانوي شاعرانو موضوع ده. مجذوب د دغو يوناني تلميحاتو استعمال ته څنګه متوجه شوی دی اول دغه محرکات لټول په کار دي. د دغو محرکاتو څرګندونه عبدالرحيم مجذوب په خپله کړې ده هغه وائي چې:

"د يوناني تلميحاتو چې کوم تاسو ذکر کوئ. دا د رومانټيسيزم د نورو خاصيتونو سره يو شامل جز دی. اګرکه د رومانټيسيزم ډېر اجزاء دي چې د انګرېزي ژبې د نولسمې صدۍ د مشرانو او کشرانو شاعرۍ نهٔ را غونډ شوي دي خو په دې کښې خصوصاً د پي بي شيلې او جان کيټس په شاعرۍ کښې د يوناني تلميحاتو ذکر شوی دی او د جان کيټس شاعرۍ ته خو Hellenie شاعري هم وئېل شوی دی او زما په شاعرۍ کښې د دې وجه محض د رومانټيسيزم ټول خاصيتونه راغونډول وو"(5)

هرکله چې مونږ وکتل چې مجذوب په خپله شاعرۍ کښې د رومانويت د تقاضو پوره کولو دپاره د رومانويت د څنو نورو عناصرو سره سره د يوناني تلميحاتو استعمال هم کړی دی خو دلته دا سوال هم پيدا کيږي چې په رومانويت کښې د يوناني تلميحاتو د استعمال څومره ضرورت او څومره جواز کېدی شي لکه چې وړاندې وئيلی شوي دي چې يوناني تلميحات د يوناني مېتهالوجي او مافوق الفطرت قوتونو او عناصرو د علامتي اظهار نوم دی نو ځکه مونږ وئيلی شو چې د يوناني مېتهالوجي او بيا په دغه مېتهالوجي کښې د يوناني تلميحاتو او

مــافوق الفطــرت عناصــرو او قوتونــو علامتــي اظهــار پــه خپلــه د رومــانوي شــاعرۍ خاصيت دی. پــه دې حقلــه هــم عبــدالرحيم مجــذوب پــه خپلــه زمــونږ لاربښـودنه کـوي هغـه د جرس نظم نمبر پـه يـوه مقالـه "د رومـانوي تحريـك پـس منظــر، خصوصــيات او پښــتو ادب تــه راتــګ" کښــې د مــافوق الفطــرت عناصرو او دېومالائي ادب په حقله ليکي:

"يــو فطــري څيــز داســی بيــانول چــې هغــه مــافوق الفطــرت ښــکاري او د مــافوق الفطــري څيــز داســې بيــانول چــې هغــه فطــري معلــوميږي دا د رومانټيســيزم دريــم جــز دی. لکــه د کــالرج د نظــم اخرنــۍ حصــه او د زاړهٔ مــاڼګي اولنــۍ حصــه او بيــا هغــه واردات چــې دوئ بانــدې بحــري ســفر کښــې تيــر شــوی ؤ. دغــه شــان د کــالرج يــو بــل نظــم کرســټابيل چــې لوســتونکی ځــائ پــه ځــائ حيــران پــاتې کــړي. دا نظمونــه يــو نــادره او ډيــره ښــکلې شــاعري ده چې د انګريزۍ يو شاعر ئې مثال نهٔ شي پېش کولی. او نهٔ سيال لري.

ځنــې نقــادان جــان کيــټس د شيکســپئير هــومره لــوئ شــاعر ګڼــي. ځنــې خلق د شېلې ډيـر مـداح دي او هغـه دا وائـي چـې شـېلې پـه داسـې زمانـه کښـې يــو کميونســټ يــا سوشلســټ ؤ او د سوشــلزم پــر چــار ئــې کــړی دی چــې هغــه وخت د کميـونزم يـا د سوشـلزم تصـور هـم چـا نـهٔ شـو کـولی. زمـا خپـل خيـال دا دی چــې شــېلې يــو انقلابــي شــاعر ؤ. او هغــهٔ بــه د يونــاني فلاســفر د افلاطــون جمهوريـه ضـرور لوسـتلي وي. او ورسـره ورسـره هغـه د فـرانس انقـلاب نـه هـم متــاثره ؤ. د شــېلې اخرنــۍ د انــارکي حجــاب خــو ســليس ژبــه کښــې ليکلــی شــوی دی. ګنــي شــېلې هــم کلــه نــه کلــه دومــره نــازك خيــالۍ او بلنــد خيــالۍ کښې خبرې کوي چې ابهام نه سېوا هيڅ سرې ته په لاس نهٔ ورځي"(6)

پــه خپلــه همدغــه ذکــر شــوې مقالــه کښــې هغــه د دغــو دېومــالائي تصوراتو او رومانويت د تعلق په حقله وړاندې ليکي:

"د رومانټيســيزم يــو اهــم جــز دېومــالائي تصــورات دي او دا څيــزو نــه اګرکــه د کلاســيکي شــاعرانو پــه شــعر کښــې مونــدهٔ شــي خــو دا دېومــالائي تصــورات کــه هغــه يونــاني وي کــه ويــدي وي. رومــاني شــاعرانو پــه خپلــې شاعرۍ کښې زيات استعمال کړي دي"(7)

همدغه د بومالاتي تاثر او د فطرت او مافوق الفطرت عناصرو تذکرې د مجذوب په شاعرۍ کښې یوناني تلمیحاتو ته لاره خلاصه کړې ده. د مجذوب د شاعرۍ دغه رومانوي مزاج سره هغهٔ د یوناني شاعرۍ یو بل اثر هم خپل کړی دی او هغه دا چې د دې قسمه مافوق الفطرت او د بومالاتي قیصو د بیان په وخت هغهٔ د خپل شعر ژبه او بیان هم هغه ساتلی دی کوم چې د انګرېزۍ شاعرانو د یوناني اثراتو د تذکرې په وخت ساتلی دی. په انګرېزي کښې د رومانوي تحریک تقریباً ټولو شاعرانو د غنائیت، نغمګۍ او جلالي ترنم په اهنګ کښې نظمونه لیکلي دي. بنیادي محرك ئې د یوناني شاعر هومر اهنګ او غنائیت دی دې لړ کښې د دوو مشهورو نظمونو ایلیډ اوډیسي بار بار تذکره راځي او دا نظمونه مجذوب هم ښهٔ په غور او توجه سره لوستي دي. مخکښې د دې نه چې د مجذوب په شاعرۍ کښې د یوناني اثراتو ښکندونه وکړو دا یادونه هم ضروري ګڼم چې د پښتو نومیالي نقاد ډاکټر چراغ حسېن شاه په خپله یوه لیکنه کښې د مجذوب د نظمونو دغو دواړو خاصیتونو ته اشاره کړې ده هغه لیکي:

"د مجذوب دې څلورمې مجموعې "دارالاوهام" کښې د یوې نوې قسم شاعرۍ تجربه کړې ده. د دې نه مخکښې "زېړ ګلونه" لعل کتي لعل" او "د مینې تنده" خالصه شاعري ده. رومانیت یو وسیع مفهوم لرونکې اصطلاح ده چې په کښې هغه ټوله شاعري راځي چې د روایتي شاعرۍ ضد ده. پخواني روایاتو نه بغاوت دی. د بادشاه په ځائ اولس سره همدردي لري او د دربار په ځائ د نادار ستاینه کوي. په کښې نوي الفاظ، نوی طرز، نوی جوړښت او جدید بحرونه وي او زوړ خیال په عجوبه ډول پېش کوي. حسن او د عشق او د فطرت منظر کشي، د صحرائي او بېدیائي ژوند بیان کوي. د مافوق الفطرت څیزونو په دې انداز ذکر کوي چې فطري معلومېږي یا د فطري څیزونو داسې ذکر کوي چې مافوق الفطرت معلومېږي. بعض په کښې د بومالاتي تصورات یو ځائ کړل شوي دي. د موزون ټکو استعمال سره داسې موسیقي ګډوي

چې نظري او سمعي لحاظ سره په زړهٔ بنهٔ لګي او اخر کښې شاعر بعض ځیزونو کښې داسې بنکلی ابهام پیدا کړي چې اوربدونکی ئې وینا سره خوند واخلي او د دې سره پوره پرې پوهه هم نهٔ شي. لنډه دا چې د زوړ روایت نه بغاوت او د سماج او د رواج د انقلاب نوم دی"(8)

په انسائیکلوپیډیا برټانیکا کښې د یوناني لیکوالو هیسېډ (Hesiod) او هومر (Homer) په حواله دغه غنائي شاعرۍ (Lyrical poetry) ته په دې ټکو اشاره شوې ده.

"Hesiod, unlike Homer, told something of himself, and the same is true of the lyric poets. Except for Pindar and Bacchylides at the end of the classical period, only fragments of the works of these poets survive. There had always been lyric poetry in Greek. All the great events of life as well as many occupations had their proper songs, and here too the way was open to advance from the anonymous to the individual poet."(9)

ترجمه: هیسېډ د هومر نه په بدلو ټکو د خپل فن په حقله اظهار کړی دی او دا په اصل کښې د غنائیه شاعرانو (Lyric poets) اظهار دی د پندار (Pindar) او بېکچېلیډیز (Bacchylides) نه علاوه د کلاسېکي دور تر اختتام پورې د نورو شاعرانو صرف نیمګړې غوندې تاثر ژوندی پاتې شوی دی خو په یوناني ادب کښې غنائیه شاعري همېشه ژوندۍ پاتې شوې ده. د ژوند د ټولو عظیمو واقعاتو سره د نورو ځانګو هم مخصوصې نغمې پاتې دي او دغسې د نامعلومو (مافوق الفطرت) عناصرو نه د مخ په وړاندې تلو دپاره هم د مخصوصو شاعرانو فن ته لارې خلاصې پاتې شوې دي".

د دغه پس منظر نه پس مونږ د مجذوب د یوناني اثراتو خپلولو او یوناني تلمیحاتو استعمالولو په پس منظر په اسانه پوهېدی شو. مجذوب د پښتو وړومبی شاعر دی چې د رومانویت په عناصرو کښې د یوناني تلمیحاتو په استعمال ئې د خپلې شاعرۍ رومانوي رنګ ته نوره هم ځلا ورکړې ده. د انګرېزي ادب په رومانوي شاعرانو کښې دغه عنصر ته کالرج، ورډزورتھ، بائرن او شېلې زیاته توجه کړې ده او مجذوب د

دغو ټولو شاعرانو ژوره مطالعه کړې ده ځکه ئې په خپله پښتو شاعرۍ کښې هم د دغو رومانوي شاعرانو په تاثر کښې دغه مافوق الفطرت رنګ ته زیاته توجه کړې ده. ډاکټر شېرزمان طائزي صاحب د مجذوب دغه دېومالائي او تلمیحاتي رنګ ته اشاره کوي او لیکي:

"دې هیئتي نوښت نه علاوه مجذوب ډېره درنه، ارزښتناکه او رنګینه نظریاتي او توهماتي پانګه هم پښتو ته رااړولې ده. هغې سره نوي الفاظ، اصطلاحات، تلمیحات او محاورې هم د پښتو په زمکه وټوکېدې"(10)

د مجذوب په شاعرۍ کښې دغه رومانوي او تلمیحاتي رنګ د پښتو زیاتو نقادانو او لیکوالو خو مخې ته نۀ دی راوستی البته ښاغلي احمد جان مروت په خپل کتاب "درد او مجذوب" کښې دې لور ته څۀ خو پام کړی دی. او د مجذوب دغه تلمیحاتي انداز ئې ستائیلی دی احمد جان مروت په دې حقله لیکي:

"مجذوب په خپل کلام کښې د تلمیحاتو استعمال ډېر زیات کړی دی خو هغۀ د عامو تلمیحاتو سره سره د یوناني تلمیحاتو طرف ته هم په پښتو کښې په وړومبي ځل توجه کړې ده...... او په دې کوشش کښې زما په خیال مجذوب تر ډېره حده کامیاب ښکاري. دې سره په پښتو ادب کښې د نوو نوو استعاراتو او تلمیحاتو اضافه شوې ده"(11).

ښاغلي محب وزیر هم د مجذوب د یوناني تلمیحاتو استعمال ته اشاره کړې ده خو ورسره ئې دا وضاحت هم کړی دی چې ځنې لیکوال د مجذوب دغه د یوناني تلمیحاتو استعمال ته د تنقید ګوته هم نیسي او په شاعرۍ ئې د ابهام الزام لګوي. خو دا درسته خبره نۀ ده هغه لیکي:

"د مجذوب په اسلوب چې کله هم خبره کیږي نو دوه اعتراضات پرې ډېر مخې ته راځي وړومبی دا چې د یوناني تلمیحاتو استعمال د هغۀ شاعري پېچیده کړې ده او دویم مخصوص کلیوالو ټکیو او لب و لهجې د هغۀ شاعري محدوده کړې ده خو زۀ خپل ځاني د دغو اعتراض کونکیو سره اتفاق کولو ته تیار نۀ یم. زما په خیال مجذوب د یوناني

تلمیحاتو د استعمال په لړ کښې تر ممکنه حده د پېچیدګۍ د ختمولو شعوري کوشش کړی دی. هغۀ دغه تلمیحات د خصوصي صلاحیتونو د سیاق او سباق نه ورچنې نۀ دي پېش کړي او کله چې د یو نامانوس څیز د مخصوص صلاحیت علم لوستونکي ته تر لاسه شي. نو هلته د ابهام ستونځه خپل په خپله ختم شي. د نرګس مړاوی ګله، د مروتو اپالو ته خطاب، کوین مېب، کالیپسو، په نوم لیکلو شوو نظمونو کښې خو د ابهام هډو ګنجائش ځکه نشته چې هر نظم کښې د شروع نه تر اخره داسې اشارې ځائ په ځائ مخې ته راځي چې د هغې نه د دغو کردارونو ابلاغ په لوستونکي په اسانه کېږي. خو کمال ئې دا دی چې هر کله ئې د ځنو نورو نظمونو په مینځ مینځ کښې یوناني تلمیحات استعمال کړي. نو هلته ئې هم سمدستي یوه نیمه داسې مصرعه ورسره لګولې ده چې د تلمیح د وضاحت کولو دپاره ډېره ضروري ګڼلې شوه"(12).

محب وزیر دغه بیان مخ په وړاندې بوځي هغه د مجذوب د ځنو نظمونو مثالونه ورکوي او لیکي:

"د دېو مالا سره د مجذوب ډېر ژور تعلق مونږ محسوسوو. که یو خوا د یوناني دېو مالا مختلف کردارونه د تلمیح په شکل کښې ورسره لیدل شي نو بل پله د پښتني او اسلامي دېو مالا تلمیحات ورسره هم لیدل کېږي او د دېومالا سره دغه عشق ئې د کلیات په دوېمه او درېمه حصه کښې نور هم مخ په وړاندې راځي چې بادشاه کله بوډا شو. داستانِ افرینش، مجمع البحرین، مجمع الشیاطین، نومې مثنویانو کښې ئې یو خوا د نظریه تخلیق په اړه پرېمانه بحث کړی دی. نو بل خوا ئې په وړو او مظلومو ملکونو او قومیتونو د زورورو د زور ګېرې ښودنه او غندنه په ځانګړي رنګ کړې ده او دا د مجذوب د فن یو بل رنګ دی چې مونږ ئې د هغۀ په همځولیو کښې د بل هیچا سره نۀ وینو"(13).

ښاغلي احمد جان مروت او محب وزیر د مجذوب د فکر، فن او شخصیت په حقله ډېر ګټور علمي کار کړی دی. دغو دواړو زلمو محققینو د مجذوب د شاعرۍ په ځنو نوو اړخونو په وړومبي ځل بحث

کړی دی یا ئې ورته اشارې کړې دي. خو دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري دی او هغه دا چې د یوناني تلمیحاتو په حقله د ښاغلي احمد جان مروت او محب وزیر په ذکر شوو بیانونو کښې ډېره تشنګي محسوسیږي. ښاغلي احمد جان مروت خو صرف د مجذوب د یوناني تلمیحاتو یادونه کړې ده او د نظمونو نمونې ئې ورکړې دي او نور هیڅ پس منظر ئې نهٔ دی ښودلی. دغه شان محب وزیر هم دې لړ کښې د مجذوب هغو نظمونو ته اشارې خو کړې دي، او دې لړ کښې ئې د مجذوب د یوناني تلمیحاتو په دفاع کښې تجزیه هم پېش کړې ده. خو د د دغو تلمیحاتو (کوم چې د مجذوب په شاعرۍ کښې راغلي دي) پس منظر په حقله ئې هیڅ معلومات نهٔ دي ورکړي سره د دې چې د مجذوب په شاعرۍ کښې یو خوا که د دغه تلمیحاتي شاعرۍ پرېمانه نمونې موجودې دي نو بل خوا ئې ځنو تلمیحاتو سره په خپله هم وضاحتي نوټونه هم لیکلي دي. دلته د دغو تلمیحاتو او نوټونو یوه جائزه اخلو چې د دې تلمیحاتو پس منظر هم واضح شي او په دې حقله معلومات هم په تفصیل سره مخې ته راشي.

په خپل یو نظم "کډې باریږي" کښې مجذوب د مشهور جنګ ټرائ تلمیح داسې استعمالوي:

"د غریب د جوس خورې :: د جونګړې زېړېدلې
تا د اوښکو سترګې لکې :: وایه چا ته دي نیولې
ولې داسې دې زړهٔ ډك دی :: ساه نیولې ساه ختلې
لکه ټرائ چې تباه وي :: چا ناموس د نومورې
په دښمن پسې راښکه شي :: په لاسونو کښې ئې پرې
هسې تهٔ په لارې درومې :: دروند زړګی ختلې غرې"(14)

د مجذوب په پورته ذکر شوو شعرونو کښې د ټرائ ذکر شوی دی چې په اصل کښې د یوناني مېتهالوجي یا د یونان د روایتي تاریخ یو جنګ ته په کښې اشاره شوې ده. د ټرائ جنګ سره سره په یوناني تاریخ

کښې د ټروجن ذکر هم کیږي. د دې جنګونو تذکره د یونان روایتي تاریخ یا مېتهالوجي ځکه ګڼلی شي چې دې جنګونو سره د انسان د مافوق الفطرت قوتونو ذکر هم کیږي او دغه شان دغو ذکر شوو دواړو جنګونو نه علاوه د نورو جنګونو تذکرې په وخت هم د انساني مافوق الفطرت عناصرو سره سره د دېوتاګانو د طاقت او ماورائي کرشمو ذکر کیږي چې عموماً ئې یوناني شاعرانو او بیا د انګرېزۍ روماني شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې په تلمیحاتي توګه یادونه کړې ده. د مثال دپاره دلته د یونان نقاد لان جائي نس (Longnius) د کتاب on the sublime نه یوه حواله پېش کوم چې پښتو ترجمه ئې حنیف خلیل کړې ده. په دغه حواله کښې د یوناني شاعر هومر ذکر هم شته او د یونان د ذکر شوو جنګونو ذکر هم د on the sublime پښتو ترجمه کښې حنیف خلیل د لان جائي نس رائې داسې پېش کوي:

"د دېوتاګانو د جنګ تصور چې هغه پېش کوي نو څومره په زور او وسعت سره ئې پېش کوي. د جنتونو (اسمانونو) نه ګېر چاپېره د اولمپس د موسیقۍ اواز اورېدی شي او د زمکې لاندې فنا (هیډس) کښې د تیرې د حکومت حکمران د خپل تخت نه را اوچت شي او د ویرې نه چغه ووهي. چرته د زمکې خوزونکی پوسائډن دا زمکه په دوو برخو تقسیم نۀ کړي او د خلقو دپاره هغه موقعې پیدا نۀ کړي د کومو نه چې دېوتاګان هم کرکه کوي.

ګرانه دوسته! ته وینې چې زمکه څنګه وچاوده او تار تارس څنګه لیدی شي او ټول کائینات څنګه ذرې ذرې شو او جنت دوزخ پنا کېدونکي او نۀ پنا کېدونکي ټول څیزونه په جنګ کښې شریك دي. خو بیا هم دا څیزونه مونږ په یوه بله حواله متاثر کوي. که مونږ دا په استعاراتي یا تمثیلي شکل وا نۀ خلو نو معلومه به شي چې دا د دېوتاګانو په مخالفت کښې ځي او زمونږ د ښکلا حس هم په منفي حواله متاثر کوي. او کومو زخمونو سره چې په دې جنګونو کښې دېوتاګان مخ شوي دي. د دې په انتقام، سلګو قید و بند احساس او په نورو جذباتو بیانولو کښې هومر تر ممکنه حده دا کوشش کړی دی چې د ترائې په

جنگ کښې شریکو خلقو ته د دېوتا حېثیت ورکوي او دېوتاګان انسانان وګڼي. خو هرکله چې زمونږ غوندې د فرضي وجود د انسانانو دپاره مرګ د مصیبتونو نه د خلاصې سبب ګڼلې شوې دی نو هومر دا دېوتاګان نهٔ صرف د خپل فطرت ترمخه دائمې شکل کښې پېښ کړی دی. بلکې د دوئ بدبختو ته ئې هم اشاره کړې ده"(15)

په دې حواله کښې د جنګونو د تذکرې په وخت د ټرائ د جنګ ذکر لان جائي نس کړی دی. د دغو جنګونو یادونه چې په تلمیحاتي توګه کومو شاعرانو په خپلو نظمونو کښې کړې ده هغې ته په انګرېزي ادب کښې د اېپک (Epic) نوم ورکړی شوی دی. د مجذوب د یوناني تلمیحاتو د شاعرۍ نمونې د اېپک (Epics) په زمره کښې راځي په مشرقي شاعرۍ کښې دې ته د رزمیه یا حماسي نوم ورکړی شوی دی چې بنیاد ئې همدغه د یونان (Epics) دي. حنیف خلیل د لان جائي نس د کتاب on the sublime پښتو ترجمې سره په (Epics) یو نوټ لیکلی دی چې دلته ئې پېش کوم:

"دا د یوناني ادب اصطلاح ده چې انګرېزۍ ته راغلې ده. د (Epics) معنٰی ده اوږد بیانیه نظم خو داسې نظم چې په کښې د سورماګانو، بهادرانو او ځوانمردانو د غیرت، بهادرۍ او جنګي کارنامو ذکر شوی وي. د لان جائي نس په لیک کښې چې د (Epics) ذکر راغلی دی نو هغه د یونان د مشهورو (ټروجن او ټرائ) د جنګونو په حواله د یوناني شاعرانو د نظمونو ذکر دی چې په کښې په خصوصي توګه د مشهور یوناني شاعر هومر د ایلیډ او اوډیسي تذکره شوې ده. د هومر په دغو دواړو نظمونو کښې د هغو جنګو ذکر دی چې "رومن او یوناني خلقو تر مینځه شوي وو"(16)

د ټرائ د جنګ تلمیح نه علاوه مجذوب په خپله شاعرۍ کښې نور ګڼ یوناني تلمیحات هم استعمال کړي دي مثلاً د مروتو اپالو ته خطاب ذکر شوي نظم سره مجذوب صاحب یو نوټ هم لیکلی دی چې په دې ډول دی:

(د یوۀ هلک په لیدو چې سرۀ وېښتان ئې وو یو یوناني ډیل ډول او د سرک په غاړه د کاڼي بوټي سره ناست ؤ. کال 1974ء نه واخله تر کال

1977ء پورې ما صرف دا یو نظم لیکلی ؤ او وروستو بیا ورپسې د څۀ حادثې په سبب زما د شاعرۍ بیل دور شروع شو چې اکثره هغه کلام په دې مجموعه کښې شامل دی"(17).

د مجذوب صاحب دغه قسمه نظمونو نه نمونې وړاندې کول ځکه مشکل دي چې نظمونه ئې ډېر اوږدۀ دي خو دا نظم دومره اوږد نۀ دی ځکه ئې مثال دپاره وړاندې کوم.

"ګورم درته ګورم په دیدن دې نۀ مړیږم
زۀ دې په کتلو باندې لاړوړی کېږم
ګورم درته ګوره حق حیران درته ولاړ یم
زۀ دې تصور کښې تر کوم ځایه پورې لاړ یم
ته خو ګلـه ما چرې لیدلی وې یونان کښې
دلته څنګه شورې د لکۍ په ریګستان کښې
خوښ دې جوړې نۀ شوه د علیین مرغزارونه
چرته چې شوریږي ښکلي زنې مستې جونه
چرته د پوتاګان چې دعوتونو ته رادرومي
واړه بې قراره ارواحونه قرار مومي
هغه د ارکېډیا څۀ ښکلی لاله زار دی
هر خوا خیابان چې لازوالـه ئې بهار دی
اوس دې جوړه هېر دی هغه خپل سپینکي اسونه
درسته ورځ به تا چې ټوپولو په سمه غرونه
ګاډي د سرو زرو او چابک د پلوشو وۀ
ښکته دې په بحر کښې محل چې د شیشو وۀ
دلته خو کځو کښې لوخې کانې دې ولاړې
ډیفنې جوړې بیا د ګمبیلې په غاړه غواړې
هغه مسته پېغله چې تا لوګه وه موندلې
زړۀ دې ورته وشو پسې منډې دې وهلې
لاس دې چې پرې بر شو دې نارې وکړې د زوره

جــــوړه شــــوه څرګنـــــده د قـــــدرت کارونـــــه ګـــــوره
اوس بـــه لوخـــو کـــانو کښـــې همـــه عمـــر ګرځېـــږې
بـــر بـــه ئـــې و نـــۀ مـــومې پـــه بـــرو بـــه خـــوړېږې
تـــۀ د کـــانې بـــوټې ســـره ناســـت ئـــې څـــۀ طلـــب دی؟
زړۀ کښـــې دې راوړی لـــه یونانـــه دا مطلـــب دی" (18)

پـه دغـه نظـم کښـې مجـذوب پـه تلمیحـاتي توګـه د یونـان د دېوتاګـانو ذکـر کـړی دی ورسـره ورسـره ئـې د زوړ یونـان د یـوې خطـې ارکېډیا ذکـر هـم پـه تلمیحـاتي انـداز کښـې کـړی دی. او د دغـه خطـې د مرغزارونـو، لالـه زار، خیابـان او لاړوالـه بهـار ذکـر ئـې کـړی دی او ورسـره ورسـره ئـې د خپلـې سـیمې د مشـهورو ځـایونو یعنـې لکـۍ (لکـې مـروت) او ګمبیلـې د کـانو او لوخـو ذکـر هـم پـه ډېـر خونـدور انـداز کـړی دی چـې د منظـر کشـۍ او محاکـات نګـارۍ ښـکلې نمـونې دي. دې نـه عـلاوه ئـې د اپـالو تلمـیح هـم اسـتعمال کـړې ده. اپـالو پـه یونـاني مېتهـالوجي کښـې د نـور، صـداقت او فنـون لطیفـه (شـاعرۍ، موسـیقۍ وغېره)دېوتـا یـاد شـوی دی چـې وضـاحت ئې په یوناني مېتهالوجي (دېو مالائي ادب) کښې په دې توګه شوی دی.

"Apollo has been various recognized as a god of light and the sun, truth and prophecy, medicine, healing, plague, music, poetry, arts and more. Apollo is the son of Zeus and Leto, and has a twin sister, the chaste huntress Artemis. Apollo is known in Greek-influenced Estruscan mythology as Apulu. Apollo was worshiped in both ancient Greek and roman religion, and in the modern Greco Roman Neopaganism."(19)

ترجمـه: (اپـالو پـه پراخـه سـویه، رڼـا ، نمـر، رښـتیا او پېغمبـرۍ، دارو درمـل، وبـا ، موسـیقۍ، ادب او دغـه نـورو څیزونـو پـه حقلـه دېوتـا منلـی شـوی دی. اپـالو د زیـوس او لیتهـو زوئ ګڼلـی کیـږي او د دۀ د زېـږون پـه حقلـه وئیلـی شـي چـې د دۀ سـره دوه خوینـدې غبرګـولې پیـدا شـوې دي. چـې د ارتهمـېس پـه نامـه پېژنـدلی کیـږي. او د مقـدس ښـکار نمائنـده دېوتاګـانې ګڼلـې شـي. پـه لرغـوني یونـاني او رومـن مـذهبونو کښـې او هـم پـه جدیـد یوناني رومن مذهب کښې د اپالو عبادت کولی شي).

دغه شان د مجذوب یو بل نظم کالیپسو تقریباً په نولس صفحو مشتمل یو اوږد نظم دی چې د یوناني تلمیحاتو غوره نمونه ده. د یادونې وړده چې دا نظم مجذوب د شلو کالو په عمر کښې لیکلی ؤ. دا نظم د یوناني دېو مالایو خور تاریخي پسِ منظر لري چې په کښې د اوډیسي د کارنامو او د ټراۍ د جنګ ذکر شوی دی. مجذوب دې نظم سره دا نوټ لیکلی دی:

"اوډیسي د ټراۍ د جنګ نه په پس وطن ته روان شو. نوزیس د هغې جهاز په تندر وویشتو. جهاز غرق شو او ډیسي په لانبو یوې جزیرې ته ووتو. هلته یوه جادوګره ښاپېرۍ اوسېده چې نوم ئې کالیپسو وه هغې اوډیسي ځان سره ایسار کړی ؤ. زیس بیا خپل قاصد هرمس ته ووېل چې لاړ شه کالیپسو ته وایه چې اوډیسي اوس ازاد کړي او خپل وطن ته لاړ شي"(20)

لکه وړاندې وئیلي شوي دي چې "کالیپسو" یو اوږد نظم دی او تسلسل لري خو دلته ترې فقط یو څو هغه بندونه پېش کوم په کومو کښې چې دغه تلمیحات راغلي دي او بیا به د دغو تلمیحاتو ځانله ځانله وضاحت کولی شي.

"هرمس اووې اې حسینې سحرکارې!
د دونودونو راستوونکي دا فرمان دی
چې اوډیسي به له تا نه جدا کیږي
زړۀ ئې کیږي خپل وطن ته پرېشان دی

دا سپېرۀ خبر چې واورېدو کالیپسو
رنګ ئې لاړو مخ ئې زېړ شو له ډېر غمه
ترېدله له هجرانه پرېدله
بیا ګویا د زړۀ له تاوه شوه یکدم

د خدایانو زړونه ولې دومره تنګ دي
چې په چا باندې ئې هیڅه نۀ چلیږي

خپلـــه ګرځـــي ښـــاپېرو پســـي مســـتي کـــا
خـــو د بـــل چـــا پـــه وصـــال ئـــې زړۀ ســـوځيږي

مـــا او ډيســـي ځـــۀ مونـــدلې پـــه خـــوارۍ وه
مـــا وې زۀ بـــه لـــم يـــزل تـــرې جوړومـــه
خـــو قضـــا کښـــې چـــې ليکلـــې جـــدائي ده
خوامخـــوا بـــه جـــدا کيـــږي ځـــۀ بـــه کړمـــه" (21)

د نظـم پـورتني وړومبـي بنـد کښـې اې حسـينې سـحرکارې مشـهورې جـادوګرې "کاليپسـو" تـه اشـاره ده او د ذکـر شـوي بنـد دوېمـه مصـرعه کښـې د "دونـدونو را سـتوونکي" د ديوتاګـانو او انسـانانو پـلار "زيـس" تـه اشـاره ده. د نظـم پـه دغـو څلـورو بنـدونو کښـې پـه ترتيـب سـره هـرمس، کاليپسـو، اوډيسـي او زيوس ذکر راغلی دی چې د يوناني تلميحاتو غوره نمونې دي.

هسـې خـو پـه دې نظـم کښـې ګـڼ يونـاني تلميحـات راغلـي دي خـو دلتـه تـرې د کاليپسـو، اوډيسـي، هـرمس او زيـس د تلميحـاتو لـږ شـان وضـاحت کـوو او ورسـره د ټـراۍ د جنـګ پـه حقلـه بـه هـم لـږ شـان وضـاحت کـولی شـي. د کاليپسو په حقله په (Free Encyclopedia Wikipedia) کښې ليکلې شوي دي.

"Calypso is remembered most for her role Homers Odyssey, in which she keeps the fabled Greek hero Odysseus on her island so she could make him her immortal husband. According to Homer, Calypso kept Odysseus hostage at Ogygia for seven years. While Pseudo-Apollodorus says five years and Hyginus says one. During this time they sleep together" (22)

ترجمـه: (د هـومر د اوډيسـي مطـابق کاليپسـو يـوه جـادوګره يـاده شـوې ده کـوم چـې د معـروف يونـاني جنګيـالي او ډيسـېس د خپـل تلپـاتي خاونـد پـه حېث پـه اوګېجيـا جزيـره کښـې لـه ځـان سـره سـاتل غـوارې اوډيسـېس هـم دلتـه د اوو کـالو دپـاره د کاليپسـو د خاونـد پـه حېث پـاتې شي خـو د خپـل وطـن مينـه او د هغـۀ د اتـل والـۍ اعلـی مـرام هغـه وهڅـوي چـې د کاليپسـو د جـادو يـا سـحر څخـه ځـان خـلاص کـړي. سـوډو اپـالوډورس او هـائې جيـنس پـه اوګېجيـا جزيـره کښـې د هـومر پينځـۀ او يـو کـال پـه ترتيـب سـره ښـودلي دي. پـه دې دوران کښـې به دوئ دواړه د ښځې او خاوند په حېث يو ځای اوده کېدل).

لکـه چـې ذکـر وشــو چــې د اوډيســي پــه کارنــامو، د ټــرائ پــه جنــګ او کاليپسـو پـه کـردار هـومر مشـهور نظـم اوډيسـي ليکلـی دی. دغـه شـان مجـذوب هـم پـه خپـل نظـم کاليپسـو کښـې دغـه کارنـامې او پـس منظـر څرګنـد کـړی، پـه ذکـر شـوي نظـم کښـې مجـذوب صـاحب د هـرمس تلمـيح اسـتعمال کـړې ده. د هرمس په حقله Free Wikipedia کښې ليکلي شوي دي.

"Hermes appearance: A handsome young man with a winged hat, winged sandals, and a golden staff twined with serpents. Hermes Symbol or Attribute: His staff called kerykerion in Greek, caduceus in Latin. This is the symbol used by doctors, through Hermes connection with healing in faint. He is however, the god of merchants. Hermes Strength: Clever, bold, determined, athletic, a powerful magician."(23)

ترجمـه: (هـرمس يـو ښـکلی ځـوان ؤ او د ښائسـتو ښکـو نـه جـوړه کـړی شــوې ټــوپۍ او څپلــۍ د دهٔ د ظــاهري پيژنــدګلو علامــت دی. کــه څــهٔ هــم هـرمس د صـحت يـابۍ يـو علامـت ګڼـل کيـږي او ډاکټـران د هغـهٔ تصـوير پـه خپلـو شـفاخانو کښـې لګـوي. خـو پـه اصـل کښـې هـرمس د کاروبـار او تجـارت خـدائ هـم دی. د هـرمس پـه خوبيـانو کښـې د هغـهٔ ننـګ ، زړورتيـا ، حاضـر دمـاغي کلکـه اراده، تېـزه منـډه وهـل، او يـو مضـبوط جـادو کـول شاملې دي).

د هـرمس نـه عـلاوه مجـذوب صـاحب پـه خپـل نظـم کښـې د زيـس يـا ذيـوس يادونـه هـم پـه تلميحـي رنـګ کښـې کـړې ده. ځکـه د زيـوس پـه حقلـه هم وضاحت په کار دی چې په دې ډول دی:

"In Greek mythology, Zeus, Ancient Greek, Modern Greek is the father of gods and men, who ruled the Olympians of Mount Olympus as a father ruled the family. He was the god of sky and thunder in Greek mythology. His Roman counterpart was Jupiter and his Estruscan counterpart was Tinia. Zeus was the child of Cronus and rhea, and the youngest of his siblings. In most traditions he was married to Hera, he is the father of Aphrodite by Dione" (24)

ترجمــه: (زيــوس پــه لرغــوني يونــاني ديومــالاا و هــم پــه جديــد يونــاني ديومــالا کښــې د خــدايانو او انســانانو د پــلار پــه حيــث يــاديږي. چــا چــې پــه اولمپــئس غــرهٔ خپلــه واکمنــي قائمــه کـړه او پــه نـړۍ کښــې ئــې خپــل ځــان

داسې معروف کړو لکه په تېر کښې مشر یا پلار. په یوناني دېومالا کښې هغه د اسمانونو او دېومالا بربښناوو خدائ ګڼلې شي. په رومن دېومالا کښې جوپيټر او په اېټر سکېن دېومالا کښې تېنيا (Tinia) د زيوس دپاره کارول شوي دي. زيوس د کرونس او ريها کشر زوئ ياد شوی دی. په زياتره روايا تو کښې هغه د هيرا سره وادهٔ کړی دی که څهٔ هم يو بل ځائ ډيوني د دهٔ د ژوند ملګرې ياده شوې ده. د ايليائيډ مطابق هغه د اپرو ډائيټ پلار دی چې د ډيوني څخه زېږېدلې دی).

مجذوب په خپل يو نظم "راته وايه خړې خړاړې" کښې د نوميالي يوناني موسيقار او شاعر ارفېس تلميح څهٔ په دې ډول وړاندې کوي. د نظم شعرونو وړاندې کولو نه وړومبې د ارفېس په حقله Wikipedia داسې معلومات راکوي:

“Orpheus was a legendary musician, poet, and prophet in ancient Greek religion and myth. The major stories about him are centered on his ability to charm all living thing and even stones with his music; his attempt to retrieve his wife from the underworld; and his death at the hands of those who could not hear his divine music.”(25)

ترجمه: (په لرغوني يوناني مذهب او دېومالا کښې ارفېس د يو نامتو موسيقار، شاعر او پېغمبر په حېث ياد شوی دی. د دهٔ په حقله چې کومې قيصې مشهورې دي په هغه کښې دا روايت مشهور دی چې څهٔ وخت به ارفېس موسيقي ږغوله نو د نورو ژوندي سرو سره به کاڼو هم د دهٔ د موسيقۍ په اهنګ کښې ملګرتيا ورسره کوله. همدغه ډول خپله معشوقه د شيطاني قوتونو څخه را خلاصول او د هغه خلقو د لاسه د دهٔ مرګ چې د دهٔ په موسيقۍ به نهٔ پوهېدل هم د دې دېومالا معروفه برخې دي).

مجذوب په لاندينو شعرونو کښې د ارفېس تلميح په دې ډول استعمال کړې ده.

"کـه بلبـل خـوږه وينـا کـړي خـو پـه ګـل بانـدې مئـېن دی
پـه ګلونـو کښـې ګرځيـږي ځـائ د ناسـتې ئـې ګلشـن دی
سـتا پـه خـږو خـږو لوټـو کښـې استوګنه نشـېمن دی
بيـا هـم څـومره قـدر خـوږ دی سـتا اواز پـه غـم لړلـی
تـا پـه دو لوګـو ميـرو کښـې روح د ارفـېس مونـدلی
کـه درکـړې دې پـه خـولې کښـې ښـاپېرانو خپلـې لاړې
راته وايه خړې خراړې" (26)

د مجـذوب پـه شـاعرۍ کښـې د دغـه قسـمه يونـاني تلميحـاتو اسـتعمال دا څرګنـدوي چـې هغـهٔ نـهٔ يـوائې د مغـرب د رومـانوي تحريـك مطالعـه کـړې ده بلکـې د يونـاني مېتهـالوجي (Mythology) او يونـاني تـاريخ نـه هـم اګـاهي لـري او دغسـې د خپلـې شـاعرۍ رومـانوي تقاضـو تـه د يونـاني تـاريخ او مېتهالوجي په استعمال ځلا ورکوي.

مجـذوب صـاحب يـوائې د يونـاني تلميحـاتو اسـتعمال نـهٔ دی کـړی. بلکـې د عربـي، ايرانـي او هنـدي تهـذيبونو تـاريخي واقعـاتو تـه ئـې هـم اشـارې کـړې دي. د اسلامي واقعـاتو يادونـه ئې هـم پـه تلميحـاتي توګـه کـړې ده او د پښـتنو تـاريخي شـعور ئـې هـم پـه تلميحـاتي رنـګ راڅرګنـد کـړی دی. خـو پـه دې بحث کښـې يـوائې د هغـهٔ يونـاني تلميحـاتو تـه اشـارې کـول مقصـد ؤ. ځکـه د هغـهٔ د شـاعرۍ پـه دغـه پـراخ تلميحـاتي پـس منظـر دلتـه بحـث نـهٔ کـوو. البتـه دومـره قـدر وئيـل ضـروري ګـڼم چـې د مجـذوب شـاعري د يـو پـراخ ادبـي، ثقـافتي، سياسـي، مـذهبي او تـاريخي پـس منظـر هېنـداره ده چـې مجـذوب صـاحب د يـو شـاعر سـره سـره د يـو لـوئ دانشـور پـه حېـث زمونږ مخې ته راولي.

❁❁❁

# حوالې


(1) حسن اللغات (جامع) فارسي اردو، اورئنټل بك سوسائټي لاهور، (س ن) مخ 221.

(2) قومي، انګرېزي اردو لغت، مقتدره قومي زبان، اسلام اباد، طبع دويم، 1994ء، مخ 57.

(3) ايضاً، مخ 1292.

(4) Britannica (Macropaedia) V – 24, 15th edition.

(5) مجذوب، عبدالرحيم، (مرکه) مخ په مخ، د حنيف خليل، دانش کتابخانه پېښور، ستمبر 1999ء، مخ 136، 137.

(6) مجذوب، عبدالرحيم، د رومانوي تحريك پس منظر، خصوصيات او پښتو ته راتګ، مشموله جرس کراچۍ نظم نمبر، جنوري 2001ء مارچ 2002ء ص 171، 172.

(7) ايضاً، مخ 174.

(8) سيد، چراغ حسين شاه، ډاکټر، د مجذوب روماني تصوف، مشموله جرس کراچۍ، نظم نمبر، ص 525.

(9) Britanica (Macropaedia) V-20 5th edition

(10) طائزی، شېرزمان، ډاکټر، فلېپ، د مجذوب کليات، دانش کتاب پلورنځی، 1999ء.

(11) احمد، مروت، احمد جان، درد او مجذوب، يونيورسټي پبلشرز پېښور، اکتوبر 2006ء، مخ 162، 163.

(12) وزير، محب، د مجذوب د شاعرۍتنقيدي مطالعه، باچاخان ريسرچ سنټر پېښور پښتونخوا، 2009ء، مخ 156 ، 157.

(13) ايضاً، مخ 158.

(14) مجذوب، عبدالرحيم، د مجذوب کليات، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، 1999ء، مخ 18.

(15) لان جائي نس، ارفعيت، (پښتو ترجمه حنيف خليل) دانش خپرندويه ټولنه پېښور، فروري 2003ء، مخ 28، 29.

(16) ايضاً، مخ 108.

(17) مجذوب، عبدالرحيم، د مجذوب کليات، مخ 306.

(18) ايضاً، مخ 306 ، 307.

(19) Free Encyclopedia (Wikipedia) dated 20-6- 2011.

(20) مجذوب، عبدالرحيم، د مجذوب کليات، مخ 179.

(21) ايضاً، مخ 190. 191.

(22) Free Encyclopedia (Wikipedia) dated 20-6- 2011

(23) Ibid, dated 20-6- 2011

(24) Ibid, dated 20-6- 2011

(25) Ibid, dated 20-6- 2011

(26) مجذوب، عبدالرحيم، د مجذوب کليات، مخ 68، 69.